
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۷مه | ٤۸۱یمه گڼه


## ځېره

۴ مخ

### هاروکي موراکامي



د ناروې ځنګل اثر يې موراکامي د شهرت اوج ته رسوي. دغه کتاب په۱۹۸۷ کال کې خپور شو.

# د نیولو او خوشي کولو لوبه؛

## د ازاد شوي نظام الدين قيصاري د بيا نيولو خونړي عمليات بې پايلې وو



۳

### له زورواکو سره د ارګ دوستي او دوښمني

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړيتوب حقوقي ارزونه

۲ مخ

### د سولې خبرو نوی پړاو؛ څو مهم ټکي

۳ مخ

### د سوداګرۍ رياست:

## په کندهار کې سوداګر ۲۵۰ میلیونه ډالره پانګونه کوي



د کندهار سوداګرو او پانګوالو ویلي، په دغه ولایت کې د راتلونکي ۱۳۹۹ لمریز کال په اوږدو کې ۲۵۰ میلیونه ډالر پانګونه کوي او ۲۵زره کسانو ته د کارموندلو فرصتونه برابروي.

د کندهار د سوداګرۍ خونې رییس حاجي نصرالله زهير ویلي، په دې وروستيو کې د افغانستان د هوايي ډګرونو د اقتصادي پراختيا کمېسيون يوه پلاوي کندهار ته سفر کړی او دلته يې له چارواکو، سوداګرو او صنعتکارانو سره پرله پسې څو غونډې کړې چې د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې ګټورې وې.

هغه زياته کړې، کندهار مېشتو سوداګرو او صنعتکارانو له دغه کمېسيون سره يو تړون لاسليک کړ او هغه پروژې يې ورته په ګوته کړې چې پانګونه په کې کوي.

هغه ويلي، د شوي تړون له مخې کندهار مېشتي سوداګر او پانګه وال پلان لري چې د دغه ولايت د اقتصادي ودې په موخه ۲۵۰ میلیونه ډالر پانګونه وکړي او شاوخوا ۲۵زره کسانو ته د کار فرصتونه برابر کړي.

### امریکایي رسنۍ: ټرمپ غواړي چې له افغانستانه ايستونکي سرتېري په منځني ختيځ کې ځای پرځای کړي

امریکايي رسنيو ويلي چې ولسمشر ټرمپ غواړي له افغانستان ايستونکي ځواکونه په منځني ختيځ او مرکزي اسيا کې ځای پرځای کړي. امريکايي سي اېن اېن شبکې ويلي، په سپينه مانۍ کې يوې سرچينې ورته منلي چې ټرمپ غواړي له افغانستانه زرګونه عسکر وباسي او پر ځای يې دغه عسکر په منځني ختيځ، مرکزي اسيا او د ايران په شاوخوا کې ځای پر ځای کړي.

سرچينې دغه راز زياته کړې، ټرمپ د سيمې د کنټرول نيت لري او له همدې امله په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر کموي.

دا په داسې حال کې ده چې د دغو راپورونو تر خپرېدو وړاندې د امريکا دفاع وزير هم ويلي وو چې د افغانستان پر ځای په ځينو نورو سيمو تمرکز کوي او له دغه هېواده خپل سرتېري نورو ځايونو ته لېږدوي.

د امريکا دفاع وزير مارک ايسپر ويلي وو چې موخه يې د ځينو هېوادونو کنټرول او څارل دي.

د يادونې ده چې تازه امريکايي چارواکو ويلي چې ولسمشر ټرمپ غواړي چې له افغانستانه خپل څلور زره سرتېري وباسي. دوی ويلي، چې ټرمپ به راتلونکې اونۍ په دې تړاو رسمي اعلان وکړي. په ورته وخت کې افغان حکومت د دغو څرګندونو په ځواب کې ويلي چې د دغو سرتېرو ايستل به د افغانستان پر امنيت اغېز ونه کړي، خو ټينګار يې کړی چې لاهم په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو پاتې کېدو ته اړتيا ده تر څو له تروريزم سره د مبارزې په برخه کې له افغان ځواکونو سره مرسته وکړي.

### له تخار او بدخشان پرته په نورو ولایتونو کې د ټاکنو د بیاشمېرنې بهیر پای ته رسېدلی



۵ مخ

### ارگ: نهادهای عدلی و قضایی امریکا می‌توانند در مورد نورستانی تصمیم بگیرد



ارگ ریاست جمهوری افغانستان با اشاره به مجرم شناخته شدن احمد یوسف نورستانی می‌گوید، نهادهای عدلی و قضایی ایالات متحده می‌توانند در مورد او تصمیم گیرند.

صدیق صدیقی، سخنگوی ریاست جمهوری در تویتر خود نوشته است: «جرم یک عمل شخصی است و هیچ کسی، در هیچ مکانی مافوق قانون بوده نمی‌تواند».

این در حالی است که وزارت عدلیه امریکا در خبرنامۀ گفته است که نورستانی در یک محکمۀ ایالت کالیفورنیا به دزدی از بودجۀ عمومی اعتراف کرده است.

آقای نورستانی حدود یک سال پیش از سوی رئیس جمهور غنی به حیث سناتور انتصاب شد و پیش از آن رئیس کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان بود.

وزارت عدلیه امریکا گفته است، نورستانی در یک محکمه ایالت کالیفورنیا اعتراف کرده است که از یک نهاد کمک کننده امریکایی «یک صد هزار دالر» به‌دست آورده است و بدون آنکه به این نهاد در مورد عدم حضورش در امریکا احوال بدهد، وقت زیاد را در بیرون از ایالات متحده گذشتانده است.

کسانی‌که در امریکا از ین نهاد پول می‌گیرند باید در مورد سفرهای شان به خارج از امریکا، به این نهاد معلومات دهند.

نورستانی به سبب این جرمش با خطر ده سال زندان و پرداخت ۲۵۰ هزار دالر جریمه مواجه است. سفارت امریکا در کابل نیز روز شنبه در تویترش اعلامیۀ وزارت عدلیۀ این کشور را منتشر کرده و نوشته است که فساد سرحد نمی‌شناسد و هر کسی‌که در هر جا اعتماد مردم را می‌شکند و از قدرت سوء استفاده می‌کند، عدالت باید بالای او تطبیق شود.


Shigal English Academy
شيګل انګليش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com | Shigal English Academy | www.shigal.edu.af | +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـــغ

## له زورواکو سره د ارگ دوستي او دوښمني

له نظام الدین قیصاري سره د حکومت چلند خلک غوسه کړي دي. دوو چارو خلک غوسه کړي دي؛ لومړی دا چې حکومت ولې د خلکو پر ځورولو، وژلو، باج اخیستلو او ناقانونیو تورن قیصاري چې تېر کال نیول شوی و، له محاکمې پرته د یو سیاسي جوړجاړي پر اساس خوشې کړ؟ که قیصاري بې گناه و، هغه وخت یې ولې ونیوه؟ ولې یې پرې دوه کوماندو سرتېري ووژل؟ او بیا یې ولې پرېښوده چې بېرته دومره وسله وال را ټول کړي. دویم دا چې ولې یې د نظام الدین قیصاري پر ضد په ښار کې دغه ډول عملیات وکړل؟ ولې یې د هغه د نیولو لپاره نوري کارنده او اسانه لارې ونه کارولې؟ ولې یې په ښار کې کوماندو، ځانگړي ځواکونه او هوایي ځواک وکارول؟ او تر ټولو مهمه دا چې له دې ټولو سره ولې قیصاري ونه نیول شو او بریالی شو چې وتښتي، یا د تېښتې لاره ورکړل شوه؟

د قیصاري له لانجې وروسته یو ځل بیا له زورواکو، جنگسالارانو او د ناقانونه وسله والو له مشرانو سره د حکومت پر چلند د خلکو نیوکې را پورته شوې دي. له بده مرغه حکومت له جنگسالارنو او زورواکو سره دوه گونی چلند کړی دی. ارگ زورواکي او جنگسالاران پر ښو او بدو وېشلي دي. د دغه وېش معیار هم ډېر ساده دی. هغه زورواکی، جنگسالار، غاصب، قاتل او مفسد چې د ارگ سیاسي ملاتړ یې کاوه؛ ښه، نېک او قانوني سړی دی. ارگ یې نه یوازې پر وړاندې کوم گام نه اخلي، بلکې ساتي یې، ملاتړ یې کوي، امکانات ورکوي او معاملې ورسره کوي. خو هغه زورواکی، غاصب او قاتل چې د ارگ سیاسي ملاتړ نه کوي، نو بد دی او باید حساب او کتاب ورسره وشي. د ارگ دا معیار ډېر ښکاره دی، ان د میاشتې په سر کې یو ځوک غل، غاصب او قاتل وي، خو د میاشتې په پای کې سپین شي، ځکه چې له ارگ سره سیاسي معامله وکړي. همداسې سپین وي، پاک وي، خو چې له ارگ سره یې سیاسي اړیکه خرابه شي، نو بیا قاتل، غاصب او زورواکی شي. د قیصاري نیول، د قیصاري خوشې کول، د علیپور نیول، د علیپور خوشې کول او د علیپور د جنایتونو پر وړاندې اوسنی سکوت د ارگ د دوه گوني چلند ښکاره بېلگې دي. همداسې له عطامحمد نور سره د ارگ اختلاف او اوس یې جوړجاړی، ښه مثال دی چې آن پر اساس یې د قیصاري پر ضد عملیات وشول. په لسگونو داسې نور مثالونه هم شته چې خلکو ته معلوم دي.

له جنگسالارانو، زورواکو، غلو، غاصبینو، قاتلینو او مفسدینو سره د ارگ په چلند که نه قانون معیار دی، نه عدالت او نه د خلکو امنیت، عزت، مال او د امنیتي ځواکونو ژوند او وینه، بلکې هر څه د واکمنو پر گټو را څرخي. بدمرغي دا ده چې عدلي او قضایي ارگانونو هم سکوت کړی او پرېږدي چې ارگ د خپلو گټو پر اساس خپله عدالت تعریف کړي. ملي شورا او نورو بنسټونو هم مناسب غبرگون نه دی ښودلی. سیاسي ډلې او اشخاص هم چې خپله کله کله دا ډول معاملې کوي، گونگ شوي دي. پر همدې اساس زورواکي، غصب، جنگسالاري، غلا او قتل زیاتېږي او عاملین یې له ارگ سره په سیاسي معامله کې ځان خوندي گڼي.

# د نړیوالې سوداگرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

خلورمه برخه:

**له سازمان سره د الحاق تر پروتوکول لاندې د افغانستان حقوق او وجایب**

په تېره برخه کې مو یادونه وکړه چې د سوداگرۍ نړیوال سازمان له ځانگړتیاوو څخه یوه دا هم ده چې هېوادونه به یې ټول هوکړه لیکونه په یوځایي ډول منې او تصویبوي به یې. همدا راز عمومي اصل دا دی چې پر دغو هوکړه لیکونو Reservations یا تحفظات، مانا دا چې د یو هوکړه لیک/معاهدې ځینې برخې یو هېواد په خپله خوښه تفسیر کړي یا ووایي چې د هوکړه لیک لسمه ماده دوی نه تطبیقوي یا د مادې د تطبیق لپاره وخت غواړي، هم نه کېږي، خو که هوکړه لیک اجازه ورکړې وي. سازمان ته له الحاق سره افغانستان دا منلې چې په سوداگریزو چارو کې به د سازمان ټولو اصولو ته غاړه ږدي او تطبیقوي به یې. همدا راز هغه تعهدات به هم عملي کوي چې د سازمان په هوکړه لیکونو کې عموماً نشته، خو افغانستان پر ځان اضافي منلي دي.

سازمان ځلور عمومي او شپږ عضوي اصول لري چې د گاټ په تړون کې تري یادونه شوې او وروسته په نورو هوکړه لیکونو کې هم په تفصیل سره تشریح شوي دي. دا اصول د افغانستان په شمول د سازمان د ټولو غړو هېوادونو حقونه او وجایب هم دي چې دلته به په تفصیل سره ذکر شي.

**د سازمان عمومي اصول په لاندې ډول دي:**

۱. له تبعیض څخه لېرېتوب او د تر ټولو مطلوب ملت یا دولة کاملة الوداد (Most Favored Nations (MFN؛
۲. ملي چلند National Treatment ؛
۳. د سوداگرۍ پر وړاندې د خنډونو کمول Reduction of Barriers to Trade ؛
۴. د کمیت محدودیتونو منع کول او پر غیر تعرفوي خنډونو تعرفه وضع کول The Prohibition of Quantitative Restrictions and the Tariffication of Non-Tariff Barriers to Trade.

د سازمان شپږ نور عضوي اصول په لاندې ډول دي:
۱. شفافیت؛
۲. مشوره/مذاکرت
۳. د شخړو حل و فصل
۴. د مخ پر ودې هېوادونو ځانگړو اړتیاوو ته پاملرنه کول
۵. سالم رقابت
٦. د حفاظتونو موجودیت، څو هېوادونه خپلې مهمې گټې خوندي کړي.

د دې مقالې دا برخه به د پورته ټولو اصولو له منځه مهم چې لومړني ځلور، د شخړو حل و فصل او سالم رقابت په تفصیل سره ذکر کړي او هم به تر دغو اصولو لاندې د افغانستان حقوق او وجایب تشریح کړي.

**د عدم تبعیض اصل**

د عدم تبعیض اصل دوه مهم فرعي اصول لري؛ لومړی یې (Most Favored Nation) او دویم یې ملي چلند یا (National Treatment) دی. دغه دواړه اصول د توکو او خدماتو په تجارت کې موجود دي او هېوادونو یې په رعایت کولو مکلف دي. په لاندې برخه کې د MFN او National Treatment اصول، استثناءات او په اړه یې د افغانستان پر ژمنو بحث شوی دی.

**له تبعیض څخه لرېوالی او د ترټولو مطلوب ملت اصل (Most Favored Nation)**

د گاټ د لومړۍ مادې د لومړنۍ فقرې له مخې، که د سازمان یو غړی هېواد د یو بل هېواد صادراتو یا وارداتو ته کومه گټه، برتري، امتیاز یا مصوونیت ورکوي، دغه هېواد مکلف دی چې ورته چلند د سازمان د ټولو غړو هېوادونو د شبیهو توکو (Like Products) سره هم وکړي. د گاټ د لومړنۍ مادې له مخې، که د MFN حیثیت د یو هېواد توکو ته ورکول کېږي، باید له دریو ټېستونو تېر شي، یا باید درې پوښتنې ځواب کړي:

لومړی دا چې د سازمان غړی هېواد چې کوم گام پورته کوي یا یې کوم تدابیر نیولي، ایا هغه د سازمان د نورو غړو هېوادونو توکو ته هم «فایده/گټه» رسوي؟ مثلاً که له یوه ځانگړي هېواد څخه د توکو پر وارداتو تعرفه ښکته شي یا د دغه هېواد د وارداتو اړوند اصول او قوانین تغیر کړای شي چې اغېز یې بیا پر خرڅلاو پرېوځي یا د تعرفې وضعې کولو مېتود د یو هېواد او بل هېواد لپاره متفاوت استعمال شي. دلته که پورته یاد شوي تدابیر د یوه ځانگړي هېواد توکو ته گټه یا فایده ورکوي، په دې صورت کې غړی هېواد مکلف دی چې د سازمان د ټولو غړو هېوادونو د شبیهو یا ورته توکو ته همدا ډول گټه/فایده ورکړي او ورسره ورته چلند وکړي.

دویمه پوښتنه دا ده چې ایا دغه فایده «شبیهو توکو» ته ورکول کېږي؟ یعنې تبعیض په هغه صورت کې منعه دی چې گټه شبیهو/یا ورته توکو ته ورکول کېږي. د بېلگې په توگه، «الف» هېواد پر منو ۳۰ سلنه تعرفه وضع کړي، اوس منې که له «ب» هېواد څخه واردېږي او که له «ج» هېواد څخه؛ تعرفه باید پرې یو ډول وضع شي؛ ځکه د «ب» او «ج» هېوادونو واردات منې دي (او دا شبیه توکي دي). البته که دواړه توکي توپیر ولري، د بېلگې په توگه، منې او مالټې. «الف» هېواد ته له «ب» هېواد څخه منې او له «ج» هېواد څخه مالټې واردېږي. په دې صورت کې «الف» هېواد کولای شي چې هر ډول متفاوته تعرفه (البته تر هغې لوړه نه چې د الحاق په پروتوکول کې ذکر شوې) وضع کړي؛ ځکه منې او مالټې شبیه توکي نه دي.

درېیمه پوښتنه دا ده چې ایا د سازمان غړو هېوادونو «شبیهو توکو» ته دغه فایده په «مستقیم او غیر مشروطه» ډول ورکړې او کنه؟ یعنې یو هېواد چې کله بل ته «فایده» ورکوي، مجبور او مکلف دی چې په مستقیم او غیر مشروط ډول همدا فایده د سازمان نورو غړو هېوادونو ته هم ورکړي. د بېلگې په توگه، «الف» هېواد له «ب» هېواد څخه په هر ډول مالټو تعرفه ۲۰ سلنې ته راښکته کړه. «الف» هېواد مکلف دی چې د سازمان ټولو غړو هېوادونو پر مالټو تعرفه ۲۰ سلنې ته مستقیماً او پرته له کوم قید و شرطه راښکته کړي. د MFN د تطبیق اړوند د سازمان ډېرې قضیې شته دي. یو یې هم د Canada-Autos قضیه ده. کاناډا هغه موټر له مالیې څخه معاف کړي وو چې په بهر کې تولیدېدل، خو هغه شرطونه یې پوره کول چې په کاناډا کې د موټرو د تولید لپاره کارول کېدل. د سازمان استیناف رکن Appellate Body په دې قضیه کې د گاټ د لومړۍ مادې د لومړۍ فقرې تفسیر داسې وکړ چې کاناډا نشي کولای ځینو موټرو ته گټه/فایده ورکړي او له مالیې یې معاف او پر ځینو نورو بیا مالیه وضع کړي. د استیناف رکن استدلال دا و چې د گاټ د لومړۍ مادې لومړۍ فقره د کومې ځانگړې گټې یادونه نه ده کړې، بلکې هره گټه او فایده یې یاده کړې ده. همدا راز یادې مادې کوم ځانگړي توکي نه دي یاد کړي، بلکې پر هرو توکو دغه ماده عملي کېږي. همدا راز دا یادونه یې هم نه ده کړې چې د یوه ځانگړي هېواد شبیهو توکو ته به فایده ورکول کېږي، بلکې د ټولو غړو هېوادونو شبیهو توکو ته به یو ډول فایده ورکول کېږي. له همدې کبله د استیناف رکن وویل چې کاناډا ځینو موټرو ته فایده ورکوي، خو د ځینو نورو غړو هېوادونو شبیهو موټرو ته یې بیا نه ورکوي او د کاناډا دغه اقدام د گاټ د لومړۍ مادې د لومړۍ فقرې نقض دی.

دMFN ماده د خدماتو په برخه کې هم باید تطبیق شي. مثلاً که افغانستان د پاکستان پوستي شرکت ته په افغانستان کې د فعالیت اجازه ورکوي، افغانستان مکلف دی چې د هند یا د سازمان د کوم بل غړي هېواد یو شرکت ته چې ورته خدمات (پوستي خدمات) وړاندې کوي د فعالیت اجازه ورکړي.

د گاټ د لومړۍ مادې لومړۍ فقره نه یوازې دا چې de Jure یا په قانون کې تبعیض منع کوي، بلکې de facto یا هغه تبعیض چې په قانون کې نه وي، خو په واقعیت کې تبعیض وي، هم منع کوي. د بېلگې په توگه، افغانستان د سازمان د یو غړي په توگه یو نوی قانون تصویب کړي چې له مخې یې هندي لاریو ته د ټرانزیټ حق ورکړای شي یا هندي لارۍ د ټرانزیټ له هر ډول فیس څخه معاف کړای شي یا پر هندي زراعتي توکو تعرفه ختمه کړای شي، خو د نورو هېوادونو له لاریو څخه بیا د ټرانزیټ حق واخیستلای شي یا پرې فیس وضع شي یا یې پر زراعتي توکو تعرفه وضع کړای شي. د افغانستان دغه اقدام د سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ تبعیض کوي او هند ته د نورو هېوادونو په پرتله فایده ورکوي، دا de jure تبعیض گڼل کېږي. همدا راز که د یوه هېواد د قانون یا پالیسۍ له متن څخه په څرگنده توگه داسې څه نه ښکاري چې تبعیض کوي، خو په حقیقت کې د قانون یا پالیسۍ د تطبیق پر مهال یې نتیجه تبعیض وي، دغه تبعیض هم منع دی. د بېلگې په توگه هند پر هغو منو چې رنگ یې زیړ وي ۱۰ سلنه تعرفه وضع کړي، دغه منې په پاکستان کې تولیدېږي او یوازې یې پاکستان صادروي او دغه راز هند د منو نور ټول ډولونه له تعرفې معاف کړي. دلته هند په قانون کې تبعیض نه کوي او نه هم د قانون له متن څخه تبعیض ښکاري؛ ځکه هند پر زیړو منو تعرفه وضع کړې او سرې منې یې له تعرفې معاف کړې دي، خو په واقعیت کې د هند دغه قانون تبعیض کوي ځکه زیړې منې چې له سرو منو سره شبیه دي یوازې په پاکستان کې تولیدېږي او پاکستان یې صادروي او د منو ترمنځ تفکیک هم یوازې په رنگ کېږي، دا ډول تبعیض de facto گڼل کېږي او داسې د MFN وجیبې نقض گڼل کېږي.

**د MFN اصل استثناءات**

د گاټ معاهده په ځینو ځانگړو حالاتو کې غړو هېوادونو ته د دې اجازه ورکوي چې د MFN اصل له تطبیق څخه صرف نظر وکړي. دا ځانگړي حالات د گاټ د معاهدې په ۱۲مه، ۱۸مه ب فقره (Balance of Payments)، ۲۰مه (عمومي استثناءات)، ۲۱مه (امنیت) او ۲۴مه (منطقوي تړونونه) مادو کې ذکر شوي دي. پر دې سربېره له مخ پر ودې هېوادونو سره ترجیحي او مطلوب چلند کولو پرېکړه پر Enabling Clause هم مشهوره ده. د دې پرېکړې له مخې، پرمختللي هېوادونه دMFN اصل نقضوي او د مخ پر ودې هېوادونو له وارداتو سره ځانگړی او ترجیحي چلند کوي.

هېوادونه مخکې له دې چې د گاټ معاهدې پر استثناءاتو تکیه وکړي، لومړی دا څېړي چې هغه تدابیر چې یوه هېواد اخیستي د گاټ د معاهدې له نورو اصولو سره مطابقت لري او کنه. که یې مطابقت درلود، بیا دې ته اړتیا نشته چې خپل اقدام د استثناءاتو له مخې توجیه کړي. همدا راز که څه هم د عدم تبعیض اصل ډېر نور استثناءات هم لري، خو تر ټولو مهم یې عمومي استثناءات، امنیتي استثناءات او منطقوي معاهدې دي. په عمومي استثناءاتو کې هغه تدابیر شامل دي چې د عامه اخلاقو، د انسانانو، ځناورو، د نباتاتو ژوند یا روغتیا، ملي او تاریخي شتمنیو، طبیعي منابعو او داسې نورو شیانو چې په ۲۰مه ماده کې یې یادونه شوې، د ساتنې لپاره ضروري وي. امنیتي استثناءات چې د گاټ په ۲۱مه معاهده کې ذکر شوي، هېوادونو ته د دې واک ورکوي چې د عدم تبعیض اصل نقض کړي.

د دې مادې له مخې هېوادونو ته پراخ صلاحیت ورکړل شوی چې د هغو معلوماتو له افشا کولو ډډه وکړي چې له کبله یې د نوموړي هېواد ملي امنیت له گواښ سره مخ کېږي. همدا راز ځینې داسې تدابیر واخلي چې د نوموړي هېواد د ملي امنیتي منافعو لپاره مهم وي، د بېلگې په توگه د وسلو یا جنگي سامان الاتو وړل راوړل، یا د جنگ په حالت یا د نړیوالو اړیکو په بېړنیو حالاتو کې یا د نړیوالې سولې او امنیت په خاطر. د MFN اصل بله استثناء د منطقوي سوداگرۍ معاهدې یا گمرکي اتحادیې دي. که څه هم د گاټ معاهده د هېوادونو ترمنځ تبعیض منع کوي، خو د گاټ ۲۴مه ماده بیا د سیمه ییزو سوداگریزو معاهدو ته چې له مخې یې هېوادونه یو بل ته ځینې اصول نرموي یا تعرفې ښکته کوي، اجازه ورکړې ده. یانې هېوادونه کولای شي چې د سوداگریزې معاهدې په تصویبولو سره د گاټ معاهدې دMFN اصل نقض کړي. د بېلگې په توگه دغه هېوادونه په خپلو منځونو کې پر ځینو توکو تعرفې ښکته کړي، خو د سازمان نورو غړو پر شبیهو توکو بیا لوړې تعرفې وضع کړي. د منطقوي سوداگریزې معاهدو مثالونه ډېر دي لکه د نافټا NAFTA معاهده چې د امریکا، کاناډا، مکسیکو او ځینو نورو هېوادونو ترمنځ ده. همدا راز SAFTA چې د سویلي اسیا د هېوادونو ترمنځ د منطقوي سوداگرۍ معاهده ده او د گمرکي اتحادیې مثال بیا اروپایي ټولنه ده.

**دوام لري...**

## د سولې خبرو نوی پړاو؛

# څو مهم ټکي

لیکنه: عبدالحی قانت

څه موده وړاندې په قطر کې د افغان سولې په اړه د طالبانو او امریکایي پلاوي تر منځ خبرې د امریکا د جمهور رییس له ټویټ څخه وروسته درول شوې وې. هغه مهال د ډېرو سیاسي شنونکو نظر دا و چې د خبرو درول د هېچا په گټه نه دي او شاید د سولې په باب دا خبرې بېرته پیل شي. د ټرمپ له ټویټ وروسته په سوله کې ښکېلو لوریو هم د سولې په تړاو د یو بل په مخالفت کې له منفي تبلیغاتو ډډه وکړه. له دې هم داسې مالومېده چې امریکایان نه غواړي دا پروسه له بېخه تخریب کړي. دا هم یو دلیل و چې ښکارېده شاید خبرې بېرته پیل شي.

بالاخر څه موده وړاندې افغانستان ته د ولسمشر ټرمپ د ناڅاپي راتگ پر مهال هغه دا خبره په ډاگه کړه چې دوی به بیا له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړي. همداسې وشول، امریکایي پلاوي او مرکچي زلمي خلیلزاد له دغه اعلانه وروسته بیا افغاستان ته سفر وکړ او د دغه سفر پر مهال یې د سولې پروسې د بیا پیل لپاره د افغان دولت مشرتابه، اپوزیسیون او ځینې نورو سیاسي او ملي څېرو سره لیدنې وکړې. په دې لیدنه کې خلیلزاد د ټولو لوریو مشورې واخیستې او د سولې د خبرو د بیا پیل لپاره قطر ته ولاړ. طالبانو هم د ډسمبر په اوومه وویل چې له خلیلزاد سره د سولې خبرې له هماغه ځایه پیل شوې په کوم ځای کې چې دربېدلې وې.

**د سولې نوی پړاو او افغان حکومت**

لومړی مهمه خبره دا ده چې د سولې په تړاو د افغان حکومت پر نه چمتووالي ټولو افغانانو ته اندېښنې راپیدا کړې دي. افغان حکومت د سولې د خبرو له پیله تر اوسه په دې ونه توانید چې یو داسې افغان شموله او ملي ټیم جوړ کړي چې د دولت او ولس لخوا د سولې استازیتوب وکړای شي. په چین کې چې د سولې د کنفرانس خبره پیل شوه، خلکو ته هغه مهال باورمندي پیدا شوه چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ شاید خبرې پیل شي، کله چې د دواړو لوریو لخوا د گډونوالو لېست ومنل شو، ولسمشر غني د لېست له نهایي کېدو وروسته د چین سفیر ارگ ته ور وغوښت او د لېست د بدلولو ټینگار یې وکړ. بالاخر یې په لېست کې داسې خلک اضافه کړل چې هغوی له ډېره وخته د سولې د مخالفت ممبرونه دي. دا طالبانو ته په دې مانا وه چې اصلاً ولسمشر غني نه غواړي چې دا خبرې نتیجه ولري، له همدې امله یې د دولت جوړ کړی لېست رد کړ. په همدغه کنفرانس کې د ولسمشر غني په غوښتنه پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په دې خبرو کې له گډونه ډډه وکړه.

د افغان دولت تر ټولو لوی مشکل دا دی چې د سولې پروسې سره هم د یوې خشکې دولتي دندې په شکل تعامل کوي، خو په حقیقیت کې د سولې خبرې یوه ملي پروسه ده او باید د یوې ملي دندې په حیث ورسره تعامل وشي.

**د سولې نوی پړاو د امریکایانو اراده**

د روانو خبرو بل مهم ټکی د سولې په اړه د امریکا سیاسی اراده ده. له ډېرې مودې راهیسې امریکایي شنونکي، پالیسی جوړوونکي او امنیتي ارگانونه په دې نظر دي چې د افغانستان بحران نظامي حل نه لري، ځکه چې په جگړه کې هم د دوی تاوان دی، هم د افغانانو او هم د مخالف لوري. له دې امله دوی دې نتیجې ته رسېدلي چې د افغانستان قضیې ته سیاسي حل وگوري. دا خبره هم واضحه ده چې د ټرمپ اداره له بهرنیو جگړو پرځای تر ډېره د امریکا په داخلي اقتصادي وده تمرکز کوي.

د دې مانا دا نه ده چې گنې امریکا نور په افغانستان کې خپلې ستراتېژیکې موخې نه لري، بلکې امریکا په بین المللي سیستم کې د چین د قوي کېدو تر څنگ له نورو غټو مشکلاتو سره مخ ده چې امریکا ته د افغانستان او سوریې له جنگه ډېر مهم دي. پر دې اساس داسې ښکاري چې د امریکا له را روانو ټاکنو مخکې امریکایان غواړي د سولې خبره یوه طرف ته کړي. خلیلزاد هم څو ځله په څو مجلسونو کې دا ویلي چې امریکا غواړي دا مشکل نور حل کړي او خپل پوځونه له افغانستانه وباسي. بل طرف ته که ځیر شو، افغان دولت د امریکایانو او طالبانو تر منځ د سولې له توافق وروسته هېڅ ډول حالاتو ته تیاری نه لري. دا هم ممکنه ده چې د افغان دولت له دې کمزورۍ څخه په استفاده امریکایان د دوی له وتلو وروسته د سیاسي فضا په تضعیف کې رول ولري، ځکه خلیلزاد بیا بیا په مجالسو کې دا خبره کوي چې موږ د سولې خبرې نهایي کوو او د افغانانو د کمزورۍ له امله موږ دوی ته د سولې موافقتنامه نه شو ځنډولی. اوس چې د سولې له توافقنامې وروسته هر څه کېږي، مسوولیت به یې د افغان دولت پر غاړه وي.

**سوله او نادولتي سیاسیون**

بله مهمه خبره چې د سولې د خبرو په باب ډېره مثبته ده، هغه دا ده چې د افغانستان اکثریت اپوزیسیون دا مهال د سولې له خبرو سره موافق دي او د سولې په پروسه کې پوره ونډه لري. پخوانی ولسمشر حامد کرزی په دې باب له ټولو نورو سیاستوالو مخکې د سولې په پروسه کې فعال ښکاري. داسې اوازې هم شته چې د سولې په باب د خلیلزاد د وروستي راتگ پر مهال پخواني ولسمشر بیا بیا د دې غوښتنه کړې چې افغانان نور د دې حالاتو د زغم هېڅ تاب نه لري او امریکایان باید په مخلصانه او صادقانه توگه دا مشکل حل کړي.

جمعیت اسلامي بل هغه لوری دی چې له ډېر پخوا یې له طالبانو سره مشکلات لرل او د یو بل پر خلاف یې سختې جگړې کړې، خو د مسکو د تېرو غونډو یو مثبت ټکی دا و چې د جمعیت اسلامي مشرانو له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړې او پر دې یې توافق وکړ چې د پخوانیو غلطیو پر ځای باید د یوه نوي پیل لپاره شریک کار پیل کړي.

بل سیاسي طرف حزب اسلامي دی. د حزب او طالبانو اړیکې هم په تاریخي لحاظ تل تتې پاتې شوې او ځینې مهال یې د یو بل پر خلاف نظامي تعرضونه هم کړي، خو څه موده وړاندې د حزب اسلامي یو لوړپوړي هیئت قطر ته سفر وکړ او له طالبانو سره یې د خپلو مشکلاتو د حل لپاره خبرې وکړې.

د سولې د پروسې په پیل کې دغو ټولو گوندونو او ټولنو د ولسمشر غني څخه دا توقع درلوده چې دی به دوی تر یو دولتي چتر لاندې راټول کړي او د سولې پروسې سره به یو واقعي ملي تعامل وکړي، خو چې کله ولسمشر خپله دا وښوده چې دی د داسې ملي سیاسی ټیم هېڅ اراده نه لري، مجبور شول چې د طالبانو خوا ته ولاړ شي او له هغوی سره خپل مشکلات پخپله حل کړي.

ولسمشر غني د سولې په باب د دولت له ځواک څخه د یو خاص ټیم په حیث استفاده وکړه او له همدې امله اوس د سولې په میدان کې یو منزوي حالت کې وجود لري.

## د نیولو او خوشي کولو لوبه؛

### د ازاد شوي نظام الدین قیصاري د بیا نیولو خونړي عملیات بې پایلې وو



امنیتي ځواکونو ورمه شپه او ورځ څو ساعته د یوه غیر مسوول وسله وال پر ضد عملیات وکړل. دوی ویل چې غواړي په شمال کې یو غیر مسوول وسله وال نظام الدین قیصاري ونیسي. قیصاري د عملیاتو د پیل پر مهال وویل چې دی د یوې دسیسې ښکار دی او په وینا یې د عطا محمد نور او حکومت وسله والو یې پر کور برید کړی دی. د نوموړي کسانو له امنیتي ځواکونو سره مقاومت وکړ او نښتې ساعتونه ادامه پیدا کړه. په پای کې امنیتي ځواکونه بریالي نه شول چې نوموړی ونیسي، خو په دې نښته کې تلفات هم واوښتل.

حکومت وایي چې نظام الدین قیصاري په شمال کې زورواکي کوي، غیر مسوول وسله وال لري او په غلا او لوټ لاس پورې کوي، خو نظام الدین قیصاري ځان بېگنا بولي او په خبره یې، دی د یوې سیاسي دسیسې ښکار دی. د شنبې په شپه بیا د یکشنبې تر شپې پورې افغان ځواکونو د نظام الدین قیصاري پر کور عملیات وکړل. په دې عملیاتو کې سپکې او درنې وسلې وکارول شوې او تر څنگ یې هوایي بریدونه هم شوي دي. ویل کېږي چې پولیسو او ان ځانگړو ځواکونو په دې عملیاتو کې برخه اخیستې ده او د مزار شریف ښار د ساعتونو لپاره د یوې سختې جگړې شاهد و، خو له دې عملیاتو سره سره د جنبش گوند پخوانی غړی نظام الدین قیصاري په دې بریالی کېږي چې د جگړې له ځایه وتښتي.

نظام الدین قیصاري څه موده وړاندې د افغان ځواکونو په یو لړ خونړیو عملیاتو کې ونیول شو. هغه مهال امنیتي ځواکونو او د قیصاري گڼو وسله والو ته مرگ ژوبله واوښته. د څو ورځو لپاره لاریونونه روان وو او لویې لارې د ترافیکو پر مخ تړل شوې وې. په ټولنیزو رسنیو کې د حکومت دغه کار سخت غبرگونه پارولي وو او دې مسئلې د امنیت تر څنگ پر سوداگریزو چارو هم منفي اغېز درلود، خو قیصاري تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې ازادېږي او بېرته خپلې سیمې ته ستنېږي.

د ولسمشریزو ټاکنو نوماند او د افغانستان د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل ویلي چې قیصاري د یوې سیاسي معاملې په پایله کې آزاد شو. د ده په خبره نظام الدین قیصاري په لومړي سر کې په غیر قانوني توگه ونیول شو او بیا د ملي امنیت په مېلمستون کې وساتل شو. نبیل وایي، د ولسمشر غني په مشرۍ حاکم ټیم له قیصاري غوښتل چې په ټاکنو کې د دوی لپاره کار وکړي. هغه زیاتوي: ((بیا دې غیر قانوني د ملي امنیت په مېلمستون کې کېښنولو او جرگې دې ور لېږلې چې په ټاکنو کې د دولت ساز ټیم نه حمایت وکړه او هغه معامله چې تا یې ورته وړاندیز کړی و اوس یې یادونه ضرور نه بولم، یوازې دومره وایم چې قیصاري ستا د هغې معاملې وړاندیز رد کړ او هغه یې قومي جگړه وبلله)).

نبیل وایي، حکومت باید له افغان ځواکونو سیاسي گټه پورته نه کړي، بلکې ټول مسایل دې په قانوني توگه تعقیب کړي. دا لومړی ځل نه دی چې پر حکومتي کړیو له افغان ځواکونو د سیاسي گټه اخیستنې تورونه پورې کېږي، بلکې تر دې وړاندې هم پخواني ولسمشر او یو شمېر سیاسي څېرو پر حکومت غږ کړی و چې د خپلو سیاسي او شخصي اهدافو لپاره دې له افغان ځواکونو کار نه اخلي.

سره له دې چې د بلخ امنیتي چارواکي د قیصاري د تعقیب خبره کوي، خو تر اوسه دا نه ده په ډاگه شوې چې هغه کوم ځای ته تښتېدلی دی. د جنبش گوند یو شمېر سرچینو ویلي چې هغه په امن ځای کې دی، خو د دغه گوند ویان بشیر احمد ته ینج وایي چې د هغه په اړه هېڅ راز معلومات نه لري. د ده په خبره: (( نه پوهېږم چې هغه اوس چېرته دی او نه هم په دې اړه معلومات لرم چې دی به جگړې په ځای کې و کنه؟)).

په ټولنیزو رسنیو کې هم دغه موضوع له جدي غبرگونو سره مخ شوې ده. د ولسي جرگې په پرونۍ غونډه کې هم وکیلانو پر حکومت نیوکه وکړه چې که قیصاري مجرم و، نو ولې له زندانه ازاد شو او که مجرم نه و، نو بیا ولې اوس د ده پر کور دغه ډول بریدونه شوي دي.

## راپورونه: په هند کې د تابعیت د قانون پر سر په راپورته شوي کړکېچ کې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې




د هند په شمال ختیځ کې لاریونونه په تاوتریخوالي اوښتي چې له کبله یې شپږ کسان وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې نږدې یوه اونۍ کې د دغه هېواد په شمال ختیځ کې زرگونو کسانو د تابعیت د نوي قانون پر وړاندې لاریونونه پیل کړي دي.

د دغه هېواد اوسېدونکي او په تېره بیا په شمال ختیځ اسام ایالت کې زرگونه کسان راپاڅېدلي او د هغه قانون د بېرته لغوه کېدو غوښتنه کوي چې له مخې یې هند ته له پاکستان، بنگله دېش او افغانستانه ورغلیو غیر مسلمان کډوالو ته د هند تابعیت ورکول کېږي. دغه قانون د ډسمبر په ۱۱مه د هند پارلمان تصویب کړی دی. د اسام ایالت په مرکز گواهاتي ښار او په پلازمېنه نوي ډیلي کې لاریون کوونکو بسونو، ټرېنونو او موټرو ته اورونه اچولي او له پولیسو سره یې نښتې کړې دي. چارواکو ویلي، چې د لاریونونو له امله د دغه هېواد په ځینو برخو کې د ټرېنونو تگ راتگ هم له خنډ سره مخ شوی دی.

په ورته وخت کې د لاریون کوونکو یوه تنظیموونکي او د مسلمانانو د ساتنې د ډلې په نوم د یوه گروپ بنسټگر ارجیت اشد قریشي رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې دوی په هېڅ صورت د دین په نوم تبعیض نه مني.

هغه زیاته کړې: «موږ اماده یو چې د حکومت هر سند ومنو، خو که د دین په نوم مسلمان ځورول کېږي او تبعیض ورسره کېږي، دا هېڅ د زغملو نه ده، مسلمانې ډلې به د دغو اقداماتو پر ضد پراخ لاریونونه وکړي». لاریون کوونکو دغه راز خبرداری ورکړی چې تازه تصویب شوی قانون د هند د اساسي قانون پر خلاف دی او دوی سرغړونه ترې کوي.

د راپورونو له مخې، د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په ځینو سیمو کې نښتې هم رامنځته شوې چې مرگ ژوبله پکې اوښتې ده. د چارواکو په خبره، تر دې مهاله لږ تر لږه څلور کسان د پولیسو په ډزو کې وژل شوي او دوه نور هم مخکې تر هغه وژل شوي وو چې معلومه نه ده چا ویشتي دي او لسگونه نور ټپیان شوي دي. د یادونې ده چې گڼو محصلینو هم په دغو لاریونونو کې برخه اخیستې ده.

## د کتــاب خبــري

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریمه برخه

افغانستان

## لسم څپرکی
## په لوی کندهار کې نوي طالبان




د دې کتاب تر ټولو وروستی چاپ د ۲۰۱۰ز کال په مې کې خپور شو، دا ځل کتاب څوارلس څپرکي او ۸۴ مادې لرلې. پر دې سربېره پکې د سلوک او سیمو د ساتنې لپاره لارښوونې هم شوې وې. له دې کتاب سره طالبانو خلکو ته ځانونه پر اصولو ولاړ ښودل، خو خلک پوهېدل چې ډېری یې نالوستي وو. د ۲۰۰۹ز کال د چاپ شوي کتاب پر پښتې د ملا محمدعمر له قوله لیکل شوي وو چې د طالبانو تر ټولو ستر مسئولیت د عامو افغانانو د ژوند او مال ساتنه ده. په ادامه یې زیات شوي وو: ((په خپلو زړونو کې خپلو ملگرو او خلکو ته ځانگړی ځای ورکړئ. له هغوی سره په وفادارۍ وروري وپالئ، په دې سره به دښمن ستاسې په منځ کې په درځ پوه نشي.))

په دې کتاب کې د طالبانو تحریک یو منظم او په مرکزي امر پورې تړلی سازمان راپېژني. د دې کتاب د متن له مخې د تحریک تر ټولو لویه موخه له افغانستان څخه د بهرنیانو شړل او د موجوده حکومت له منځه وړل وو. د تحریک ایډیولوژي او نړیوال لیدلوری یې په اسلامي شریعت پورې تړلی گڼلی و. پر دې ټولو سربېره په کتاب کې طالبانو ته د سازمان د مراتبو د لړۍ، د منع شوي سلوک، د مذهبي مسائلو د رعایت، د عامو خلکو تر منځ د شخړو اوارۍ او له رسنیو سره د اړیکو په اړه معلومات وړاندې شوي وو. په دې کتاب کې طالبانو ته لارښوونه شوې وه چې مخالفین څه ډول د دوی اسلامي تحریک ته دعوت کړي، له جاسوسانو، زندانیانو، قراردادیانو او د جگړې له ورانیو سره څنگه سلوک وکړي. په دې کتاب کې د بچه بازۍ پر چارو هم بندیز لگول شوی و. طالبانو ته امر شوی و چې په خپلو جگړه‌ییزو لیکو کې لغړ زنو هلکانو ته ځای ورنکړي.

په کتاب کې په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د شوراگانو غړو او مخورو ته هم لارښوونې شوې وې. په دې کتاب کې له ځايي مشرانو، ملا امامانو نیولې تر ملا محمدعمر پورې ټولو ته یې لارښوونې او اصول ور په گوته کړي وو. د دې کتاب بېلابېلې گڼې د طالبانو د والیانو، ولسوالانو، قاضیانو او ځايي شوراگانو له لارې ووېشل شوې. له دې سره د هرچا لپاره د واک او مسئولیتونو کچه ټاکل شوې وه. په دې اصولو کې له ځايي، قومي او ژبني مسائلو څخه حکمت، زړورتیا، تقوا او خیر رسونې ته ډېره ترجیح ورکړل شوې وه. په کتاب کې ټولو طالبانو ته ویل شوي وو، داسې سلوک وکړي چې خلک یې په اسانۍ مرستې، ملاتړ او هرکلي ته را ودانگي.

په دې کتاب کې جدي او سختې لارښوونې هم شوې وې. په وروستیو خپرونو کې یې په وضاحت سره له حکومتي مامورینو، قراردادیانو او غیر دولتي موسسو سره د چلند کړنې واضح شوې وې. کتاب پر شکنجې او بدن د غړو پر غوڅولو بندیز لگولی و. د وژلو چارې ته یې یوازې د مرمۍ له لارې اجازه ورکړې وه، د وژلو پر مهال یې د وېډیو اخیستل هم منع کړي وو. دا کار په بشپړه توگه د القاعدې له سلوک سره په ټکر کې و، ځکه هغوی به هر وخت د وژلو پر مهال وېډیو اخیسته. کتاب کې لیکل شوي: ((کله چې کوم څوک په وژلو محکوم شي، هغه که جاسوس وي او که کوم بل مجرم، باید د ټوپک په ډزو ووژل شي. د وژلو پر مهال یې د انځور اخیستل منع دي.)) په کتاب کې لیکل شوي وو چې په مرگ محکومولو حکم یوازې ملا محمدعمر او د هغه مرستیالان ورکولای شي.

کتاب کې طالبانو ته لارښوونه شوې وه، له زندانیانو او جاسوسانو څخه دې د شکنجې او دروغو ژمنو پر مټ اقرار نه اخیستل کېږي. د جاسوسانو د برخلیک په اړه یوازې لوی مشران حکم کولای شي. ځايي قومندانانو ته لارښوونه شوې وه چې له جهاد څخه د خپلو شخصي موخو لپاره کار وانخلي. هغوی له جریمو ټولولو، د پیسو لپاره د انسان تښتولو، د عشر او زکات په نوم د پیسو له اخیستلو هم منع شوي وو. په جگړه کې له ښکېلو طالبانو غوښتل شوي وو چې خپله ټوله پاملرنه جگړې ته واړوي، د ځايي شخړو حل دې ځايي خلکو ته پرېږدي. له دې اصولو سرغړوونکو ته د جزا ورکولو خبر ورکړل شوی و. په دې کتاب کې ان سگرېټ څکول هم منعه شوي وو.

د ځانمرگو برید کوونکو لپاره هم اصول وړاندې شوي او کتاب کې زیات شوي وو: ((فدایي بریدونه باید په ډېرو مهمو او ارزښت لرونکو هدفونو ترسره شي، د مسلمان ملت د ځوانانو وینه باید پر بې ارزښته او کوچنیو موخو قرباني نشي.)) د کتاب پر دوهمه برخه کې ځانمرگو بریدگرو ته لارښوونه شوې وه چې د برید پر مهال د عامو خلکو ژوند ته پاملرنه وکړي.

**تش په نوم سازمان**

په سویلي افغانستان کې د ځايي څېړنو پر بنسټ جگړه کوونکي طالبان پر دریو برخو وېشل شوي وو:

۱. د دین لپاره جنگېدونکي طالبان

۲. هغه چې د ځايي حکومت او بهرنیانو له لوري د زیان اړونې په سبب د غچ اخیستلو لپاره جگړه کوي.

۳. هغه پخواني طالبان چې د حکومت پر ضد غرونو ته ختلي او جگړه کوي. **دوام لري...**

# هاروکي موراکامي

شفیق امیرزی



هاروکي موراکامي جاپاني لیکوال دی. هغه د ۱۹۴۹ز کال د جنورۍ په ۱۲مه په جاپان کې زېږېدلی دی. د هغه کتابونه په جاپان او ټوله نړۍ کې خپل مینه وال لري. دی تر ډېره کیسې او ناولونه لیکي، خو ځانگړی سبک لري چې همدې سبک دی په نړیواله کچه مشهور کړی دی. دی د نړۍ د هغو لیکوالانو په کتار کې دی چې کتابونه او ناولونه یې ډېر مینه وال او لوستونکي لري. د معلوماتو له مخې، اثار یې د نړۍ په ۵۰ ژبو ژباړل شوي دي. له جاپان بهر او په جاپان کې یې د کتابونو میلیونونه نسخې پلورل شوې دي.

د ده اثار تر ډېره د ژورو خیالونو ټولگه ده او د فانتیزي سبک مخکښ لیکوال دی. فانتیزي سبک په دې مانا چې له واقعي ژوند ور هاخوا تر ډېره خیالي او ماورایي ژوند پکې انځور شوی وي. له همدې امله یې د نړیوالو ادبیاتو د فانتیزي سبک جایزه هم گټلې ده. ده د داستاني ادبیاتو د فرانک اوکانر نړیواله جایزه، د کافکا نړیواله او اورشلیم جایزې هم گټلې دي. هغه خورا مشهور اثار لري چې وروسته ورباندې خبرې کوو. مخکې مو وویل چې موراکامي جاپاني لیکوال دی، خو کله چې مشهورېږي، نو جاپان د هغه اثار د غیر جاپاني د خپرولو په تور ځپي او نیوکه وربانديې کوي. دوی باوري دي چې د موراکامي پر اثارو د ریموند چندلر، کرت وونه گات او ریچارد براتیگان اغېز لیدل کېږي.

د ده داستانونه تر ډېره د باور برخلیک، سور ریالیستي باورونه او د یوازېتوب او بېگانگۍ رنگ له ځانه سره لري. استیون پول گارډین ورځپاڼې ته ویلي چې موراکامي د خپلو لاس ته راوړنو او اثارو له امله د نړۍ په لویو او سترو لیکوالانو کې دربېږي.

موراکامي د ۱۹۴۹ز کال د جنورۍ په ۱۲مه د جاپان په کیوتو ښار کې زېږېدلی دی. دی د۲۰ پېړۍ په منځ کې داسې مهال زېږېدلی چې نړۍ له جگړو راوتلې وه او د ودې پر لور روانه وه. د نړۍ ډېرې هېوادونه په تېره غربي هېوادونه د ودې په حال کې وو. دی د خپلې کورنۍ یوازېنی اولاد دی. پلار یې د بودایي کشیش زوی و او مور یې هم د یوه سوداگر لور وه. مور یې د اوزاکا اوسېدونکې وه، مور او پلار دواړو یې د جاپاني ادبیاتو تدریس کاوه. دوی د جاپاني ادبیاتو په اړه مطالعه لرله او په دې برخه کې یې د تدریس چارې پر مخ وړلې.

سږ کال، تېر کال یا راتلونکی کال فرق نه کوي، خو هر کال د امریکا او برېټانیا د ډېرو پلورل شوو کتابونو لېست تغیر کوي. په دې کتار کې تل څو د مینې او انساني ژوند داستانونه په لومړي سر کې وي. په دې منځ کې څو نفره لا هم شته چې د دغو کتابونو جدول بدلوي. یو پکې موراکامي دی. هر دوه یا درې کاله وروسته راپیدا شي او د امریکا او برېټانیا د ډېرو پلورل شوو کتابونو کتارونه بدل کړي. داسې یو کس دی چې تر دېرش کلنۍ پورې یې یوه کرښه هم نه وه کښلې. داسې یو کس چې کتابونه یې له یوازېتوب، وسوسو او ځان وژنې ډک دي. موراکامي تر دېرش کلنۍ پورې یوه کرښه هم نه وه کښلې. د توکیو په کوکونبونجي کې یې له خپلې مېرمنې سره ژوند کاوه، خو ژوند یې هله په بل مخ واوښت چې په دېرش کلنۍ کې جینگو سټېډیوم ته د جینگو لوبې د کتو لپاره لاړ. دی وایي، د ۱۹۷۷۸ز کال د اپریل لومړۍ نېټه د غرمې یوه نیمه بجه وه، په جینگو سټېډیوم کې وم، هلته څوکۍ نه وې، یوازې شین اسمان و او پر شنه چمن لوبه روانه وه. ما لوبو ته کتل او ځینې صحنې مې په ذهن کې خورا ښکلې جوړولې. په همدې سره پوه شوم چې کولی شم ښه کیسه لیکوال شم. زما اوس هم هغه پراخ او ښکلی اسمان په یاد دی. د نوو رسېدلو چمنونو احساس او د لرگي د ضربې غږ مې لا هم په غوږونو کې دی.

موراکامي په لیکوالۍ کې لکه د یوه اشپز په څېر چلند کوي. له بېځایه ځان ښودلو ډډه کوي. دی د مېز شا ته کېني او د شیانو د رنگ رنگ ښودلو پر ځای اجازه ورکوي، خواړه لکه څنگه چې دي، هسې ښکاره شي. دی خپل خواړه خام او پاخه دواړه په ښکاره د مشتري مخې ته ږدي. دا د موراکامي د نثر مهمه ځانگړنه ده. موراکامي د کوبه په بندري ښار کې رالوی شوی دی. دا سیمه له بهرنیو سوداگرو او بېړۍ چلوونکو ډکه وه. سیلانیان هم په دې سیمه کې هسک او ټیټ کېدل. د ده کورنۍ څه ناڅه بې وزله وه. د ده پیسې د ټولو هغو کتابونو لپاره کافي نه وې چې ده یې د اخیستو هوډ درلود. بله چاره یې نه لرله، نو زاړه کتابونه یا دویم لاس کتابونه به یې اخیستل او لوستل به یې. له همدې امله یې لومړنۍ اړیکه له انگلیسي ادبیاتو سره پیدا شوه؛ ځکه د سوداگرو، سیلانیانو او بېړۍ چلوونکو دویم لاس یا کارول شوي کتابونه به یې پېرل. دا تر ډېره ساده انگلیسي او د عامو خلکو د خوښې وړ ناولونه وو.

موراکامي په ۱۹٦۸ز کال کې د واسدا د نمایشي هنرونو پوهنتون ته بریالی شو. په ۱۹۷۱ز کال کې یې له خپلې مېرمنې یوکو سره واده وکړ. د مېرمنې دنده یې دا وه چې له ۱۹۷۴تر ۱۹۸۱ز کاله پورې یې د ریکارډ شوې موسیقۍ پلورنځی درلود. موراکامي د قهوې پلورلو یو ځای ځایگی درلود او بیا یې له مېرمنې سره په گډه یو پلورنځی جوړ کړ. دوی دواړو خپل کارځای اداره کاوه او په دې توگه یې ژوند پر مخ بېولو. موراکامي د منډې له سپورت سره ډېره مینه لرله. سره له دې چې د منډو یا ځغاستې د رسمي ټیمونو غړی و، خو تر ۳۳ کلنۍ پورې یې په هېڅ یوه سیالۍ کې گډون ونه کړ. د ۱۱۹٦ز کال د جون په ۲۳مه یې په یوه داسې سیالۍ کې گډون وکړ چې په هغه کې یې باید سل کیلومتره ځغاسته کړې وای. ده له دې سپورت سره مینه لرله او په ځینو کتابونو کې یې دا مینه راځرگنده شوې هم ده.

موراکامي په لومړیو دوو- دریو ناولونو د نقادانو او ادبپوهانو پام ځان ته را واړاوه. ان په همدې لومړي پړاو کې یې جایزه هم وگټله، خو دا هر څه د ناروې ځنگل نومي کتاب په مقابل کې هېڅ وو. له همدې کتاب سره د موراکامي د بې پایه بریا لومړی فصل پیل شو. دا کتاب د چاپ په همغه لومړیو وختونو کې یوازې په جاپان کې لس میلیونه ټوکه وپلورل شو. د دغه کتاب غبرگون دې ځای ته ورسېد چې موراکامي ته یې د شهرت تر څنگ خطرونه هم پېښ کړل. هغه د شهرت په اوج کې اړ شو چې له جاپان ووځي.

موراکامي د جاپاني لوستونکو د جذب لپاره دا کتاب لیکلی دی. دوی د سور یالیستي سبک له ناولونو سره علاقه نه لري، خو د ناروې ځنگل بیا په همدې سبک لیکل شوی دی او ده غوښتي چې د جاپایانو پام ځان ته را واړوي. کتاب په کاملاً واقعي گرایانه فضا کې لیکل شوی او لوستونکی یې له هر څه خوند اخلي. کتاب د یوې ځوانې جوړې په اړه لیکل شوی دی. دوی د خپل یوه ملگري تر وژل کېدو وروسته په وسوسه او د وژل کېدو په وهم کې ژوند کوي. د دغه کتاب تر خپرېدو وروسته موراکامي د جاپانیانو رگ پیدا کوي. دوی یې په ارامه او احتیاط له ځان سره خیالي دنیا ته بوتلل. داسې یوه دنیا چې غیر واقعي، غیر منطقي ده او د تشرېح وړ نه ده. بیا یې کافکا په ساحل کې د کوکي مرغه پېښې او نورو کتابونو خپله بریا تعقیب کړه.

سکورو تازاکي او د زیارت کلونه یې نوی اثر دی. د موراکامي د نورو اثارو په پرتله د دغه اثر داستان ساده او ډېر روان دی. د سوکورو څلور ملگري څو کاله وړاندې له کوم دلیل پرته له ده سره اړیکه پرې کوي. ده ته هېڅ توجه نه کوي. اوس شپاړس کاله وروسته دې پرېکړه کوي چې خپل هر یو ملگری پیدا کړي. دی غواړي له دوی وپوښتي چې ولې او په څه دلیل یې دی یوازې پرېښود. د دغه ناول داستان د همدې پلټنې پر پېښو راڅرخي. د موراکامي د داستانونو عمده موضوع همدا وېرې دي. له یوازېتوب وېره، له دې وېره چې څوک دې درک نه شي کړی او له دې وېره چې هر څوک دې همداسې په خپل حال پرېږدي او لاړ شي. دا ټول د موراکامي د داستانونو بنسټ دی اصلي موضوع او هدف یې همدلته دی.

موراکامي په ۱۹۸۱ز کال کې خپل بار او د قهوې پلورنځی پلوري او لیکوالۍ ته مخه کوي. په ۱۹۸۲ز کال کې د وحشي مېږي ناول خپروي. په همدې کال کې دغه اثر د نوما ادبي جایزه اخلي. د ۱۹۸۴ز کال په اکتوبر کې فوجیتساوا ښار ته راځي. په ۱۹۸۵ز کال کې سنداگایا ته راځي. په ۱۹۸۵ز کال کې د عجایبو وطن او د نړۍ پای کتابونه خپروي. له همدې سره د جونیچي ادبي جایزه هم گټي. د ناروې ځنگل اثر یې نو موراکامي د شهرت اوج ته رسوي. دا کتاب په۱۹۸۷ کال کې خپروي. په ۱۹۹۱ز کال کې یې پرنستون ته کډه وکړه او په پرنیستون پوهنتون کې یې په تدریس پیل وکړ. په ۱۹۹٦ز کال کې یې د یومیوري جایزه وگټله او په ۱۹۹۷ز کال کې یې زېرزمیني ناول خپور کړ. په ۲۰۰۱ ز کال کې بېرته جاپان ته راوگرځید.

موراکامي په نړۍ کې ستر او مشهور لیکوال دی. هغه په ۲۰۱۸ ز کال کې له دوو نورو لیکوالانو سره د نوبل جایزې ته هم نوماند شو. دا په نړۍ کې د ادبیاتو په برخه کې یوه ستره جایزه ده چې هر کال لسگونه لیکوالان د نوماندۍ غوښتنه ورته کوي، خو له دې ډلې یو کس دغه جایزه گټي. په نوبل بنسټ کې د گډوډیو له امله بیا په ۲۰۱۸ز کال کې د نوبل ادبیاتو جایزه له نیوکو سره مخ شوه او ټاکل شوې وه چې په ۲۰۱۹ ز کال کې دغه جایزه یوه نړیوال لیکوال ته ورکړل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۷۰ |
| € | ۸۷,۲۰ |
| Rp. | ۵۰۵ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰٤,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| Kam Air | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| flydubai | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# که کاروباري وده غواړئ، په نوښت او چټکتیا کې یې ومومئ!

ژباړه: غازي عابد

ډیجیټل نوښتونه داسې توپان دی چې د هر ډول کار، بېزنس او روزګار رهبر باید ورسره ځان عیار کړي. په خپلو تولیداتو او کارونو کې نوي لارې چارې، پلانونه، بېلګې او نور شیان وکاروي چې پېرونکي پرې راټول شي.
هغه کمپنۍ چې په پخواني موډ او طرز کې اوس هم رواني وي، ژر ژر خپل پېرونکي له لاسه ورکوي او هغوی چې نوښت نه کوي، واضح خبره ده چې بېخي به له منځه هم لاړ شي.
د نوښتونو د رهبرۍ پوه روراې موري وايي، په اوسنۍ نړۍ کې بېزنس په ډراماتیک او ناڅاپي ډول سره بدلون کړی او اوس د ټکنالوژۍ نړۍ خوښه ده چې څومره غواړي نوی تولید وکړي او نوی قیمت ورته وټاکي. هغه بېزنسونه یا سوداګرۍ او نور کاروبارونه چې نوښتونه کوي او له پخوانیو وختونو سره فاصلې ایجادوي، واضح خبره ده چې له نورو به په سیالۍ او ګټه کې هم مخکې وي.
د ښاغلي موري په وینا، ټکنالوژۍ د بېزنس د ودې او پرمختګ لپاره ممکن کوونکې ده چې وشي کولی په چټکۍ سره له فرصتونو استفاده وکړي. دی زیاتوي، پخوانۍ طریقې اوس د ښه تولید او بازار لپاره کمزورې وسیلې دي. په مخکنیو لارو چارو به هېڅکله هم د اړتیا وړ وده او تکثر ونه لیدل شي.
د موري په خبره، ټکنالوژي په خاص ډول مصنوعي نویوالی، د تولید لپاره یو نوی فکټور دی چې په وسیله یې کولی شی د پرمختګ او ودې لپاره نوې سرچینې ومومئ، خو د کار د څرنګوالي بدلون باید په داسې ډول وي چې خلک یې غواړي او د پېرونکو غوښتنه وي.
اوسمهال پېرونکي انتظار نه مني، بلکې تېزوالی خوښوي، ځکه اوس ډیجیټل نړۍ او اقتصاد دی، هغوی په چټکتیا پسې ګرځي چې د چا خدمتونه ژر ترلاسه کولی شي، هماغه انتخابوي او په هماغو پسې کېږي.
اوسمهال د هر صنعتکار باید هڅه وکړي چې خپل قوت په ټکنالوژۍ پورې وتړي، د ټکنالوژۍ په مرسته مسابقې وکړي، ځکه اوس همدا وخت دی چې خپل صنعت پرې پیاوړی کړي او ژر پر خپل ځان پېرونکي رامات کړي.
هغه هېوادونه چې نوښتونه کوي، هغوی فرصتونه هم رامنځته کوي او بالاخره د خپلو خلکو لپاره کاري زمینې هم برابروي؛ ځکه په کاروبار کې هر نوښت




د بشري قوې جذبوونکی کېدای شي او کېدای شي لا ډېر خلک مصروف کړل شي.
د (The New Geography of Jobs) لیکوال او اقتصاد پوه اینریک موریټي هم اشاره کوي چې که مو د کارونو په یوه برخه کې نوښت رامنځته کړ، ورسره به وشو کولی چې له اوسني حالته بدلون راولو او څو نور کاري فرصتونه هم ایجاد کړو چې په همدې ډول سره به وشو کولی چې کوچنی یا ساحوي اقتصاد په قوي او پیاوړي هغه بدل کړو.
موري زیاتوي، که موږ د طب په برخه کې نوښت کوو، نو کېدای شي په بېلابېلو برخو کې نوي مصروفیتونه هم راپیدا کړو، لکه د داخلي ډاکټران، د غاښونو ډاکټران، ځای پاکوونکي او داسې نور. په ټوله کې ویلی شو چې نن سبا د نړۍ لپاره مهمه ده تر څو په خپلو ورو او غټو کاروبارونو کې نوښتونه رامنځته کړي؛ ځکه که داسې ونه شي، ممکنه نه ده چې پېرونکي ولرو او هم نه شو کولی چې ورځ تر بلې زیاتېدونکې بشري قوه مهار کړو او دندې ورته پیدا کړو.

## ځايي اوسېدونکي: پاکستاني ځواکونو په کونړ کې له فرضي کرښې دېخوا ماینونه ځای پرځای کړي دي

په کونړ کې له ډیورنډ فرضي کرښې سره پرتو ولسونو ویلي چې پاکستانیو ځواکونو د غځول شوي اغزن تار څخه دېخوا د پرسونل ضد ماینونه ځای پر ځای کړي دي.
دوی ویلي، چې د دغو ماینونو له کبله د دې سیمې یو شمېر اوسېدونکي وژل شوي، ځینې یې معلول شوي او په لسګونو څاروي یې هم له منځه تللي دي.
د مرورې ولسوالۍ اوسېدونکي ۱۲ کلنې کوچۍ ویلي، چې د ماین په چاودنه کې یې یو پښه پرې شوې ده.
هغې زیاته کړې: «ما به هره ورځ څاروي څرولو ته وړل، غاښي کنډو سره نږدې راباندې بم وچاودېد، پښه مې زخمي شوه، هلته زموږ سرحدي پولیسو خپلې پوستې ته بوتلم، په پوسته کې یې راته پانسمان وکړ، بیا یې روغتون ته راولېږلم، روغتون کې یې رانه پښه پرې کړه، زما څو ملګرې هم معلولې شوې او څاروي مو له منځه لاړل، هرځای کې یې ماینونه ښخ کړي دي».
دغه راز د کوچۍ پلار سید محمد ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي چې حکومت دې ژر تر ژره دا سیمه له ماینونه پاکه کړي.
هغه ویلي: «پاکستاني دښمن دېخوا ته زموږ خاورې ته بمونه را اړولي دي، انسانان او مالونه یې راته پرې والوزول، دغه ماشومه زما لور ده، دا یې معلوله کړه، ۸ کسان یې شهیدان کړل، ۱۲ کسان معلول شول پښې یې پرې شوې، حکومت باید دغه ماینونه پاک کړي، څو موږ او زموږ څاروي له خطره وژغورل شي، هغوی ۶۰۰ یا ۷۰۰ متره د کونړ داخل کې دغه بمونه ایښې دي».
په ورته وخت کې د دانګام ولسوالۍ اوسېدونکو هم ویلي چې د پاکستاني ځواکونو له لوري د ښخ شویو ماینونو له کبله له ستونزو او ګواښ سره مخ دي.
د دې ولسوالۍ اوسېدونکي محمد سلیم ویلي: «د اغزن سیم پاکستان لور ته هېڅ ماین نشته، خو دېخوا یې ماینونه ښخ کړي چې له امله هلته پرتې باندې شاړې شوې».
بلخوا د دانګام ولسوال محمد رحمان دانش هم منلې چې د پاکستان پوځ له ډیورنډ کرښې دوه درې سوه متر دېخوا ماینونه ایښې چې له امله یې ولسونو ته مالي او ځاني زیانونه اوښتي دي.

## د ټاکنو کمېسیون: له تخار او بدخشان پرته په نورو ولایتونو کې د ټاکنو د بیاشمېرنې بهیر پای ته رسېدلی

د ټاکنوخپلواک کمېسیون ویلي، په سرپل، پنجشیر او جوزجان ولایتونو کې د رایو بیا شمېرنې او څېړنې بهیر بشپړ شوی دی.
د دغه کمېسیون د چارواکو په وینا، په تخار او بدخشان ولایتونو کې هم د رایو بیاشمېرنې بهیر پیل شوی او ډېر ژر به پایه ته ورسېږي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې په ۲۷ ولایتونو کې د رایو بیا شمېرنه پای ته رسېدلې و، خو په یادو اوو ولایتونو کې د ټاکنیزو کشمکشونو له کبله دغه بهیر له خنډ سره شوی و.
د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا مشر حبیب الرحمن ننګ ویلي چې په اوو شمالي ولایتونو کې تر ۱۳۵۰ د زیاتو محلونو د رایو د بیاشمېرنې پرېکړه شوې وه، چې لویه برخه یې په بغلان او فاریاب کې ده.
دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون کارکوونکو د شمال په دغو اوو ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه د ثبات او همپالنې د ټاکنیزې ډلې د مشر عبدالله عبدالله له اجازې وروسته پیل کړه.
عبدالله تېره جمعه له خپلو پلویانو وغوښتل چې په دې اړه خپل اعتراض پای ته ورسوي او اجازه ورکړي چې کمېسیون د دغو ولایتونو رایې له سره وشمېري، خو نوموړي خبرداری ورکړی چې ۳۰۰زره تقلبي رایې اوس هم ورته د منلو نه دي او په خبره یې، اجازه به ورنه کړي چې مقابل ټیم یې د ناپاکو رایو له لارې ولسمشرۍ څوکۍ ته ځان ورسوي.
په ورته وخت کې د ټاکنو کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ او د کمېسیون نورو غړو له ټاکنیزو ډلو سره دوې علني مشورتي ناستې وکړې چې ولاړه شوې لانجه هواره کړي، خو تر دمه په دغه کار کې نه دي بریالي شوي.
تازه جنجال هغه مهال رامنځته شو چې د ټاکنو کمېسیون نږدې یوه میاشت وړاندې په ۳۴ ولایتونو کې د شاوخوا ۸۵۰۰ محلونو د رایو د بیا شمېرلو پرېکړه وکړه.
د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې په ګډون ځینو نورو ډلو هم د کمېسیون د دغه ګام پر ضد اعتراضونه پیل کړل.
د یادولو ده د تلې پر شپږمه د ترسره شویو ولسمشریزو ټاکنو د لومړنیو پایلو نېټه د همدغو ناندریو او تخنیکي ستونزو له کبله دوه ځلې ځنډېدلې، خو اوس د ټاکنوخپلواک یو ځل بیا ژمنه کړې چې د روانې اونۍ تر پایه به یې اعلان کړي.

## عدلیې وزارت: سږ کال تر دې مهاله ولسمشر هېڅ ډول تقنیني فرمان نه دی صادر کړی

د عدلیې وزیر عبدالبصیر انور د یوې خبرې پر مهال ویلي چې سږ کال ۷۵ تقنیني سندونه د قوانینو کمېټې، کابینې او ملي شورا ته وړاندې شوي، خو په دې موده کې د ولسمشر له لوري کوم تقنیني فرمان نه دی صادر شوی.
هغه ویلي چې د عدلیې وزارت له کاري مهالوېش سره سم تر اوسه باید ۷۳ تقنیني سندونه وړاندې شوي وای، خو د کال پای ته درې میاشتې پاتې دي او تر اوسه ۷۵ تقنیني سندونه د یاد وزارت له خوا د قوانینو کمېټې، کابینې او ملي شورا ته وړاندې شوي دي.
انور ویلي چې لس سندونه بېرته د کابینې او ولسمشرۍ مانۍ له خوا له تصویب وروسته عدلیې وزارت ته د خپرېدو لپاره ورکړل شوي دي.
هغه زیاته کړې چې په دغو تقنیني سندونو کې د اوبو د تنظیم قانون، د کیمیاوي موادو د تنظیم قانون او د نښانونو، مډالونو او لقبونو قوانین هم شامل دي.
د نوموړي په وینا، د روان کال په اوږدو کې د ولسمشر له لوري کوم تقنیني فرمان ځکه نه دی صادر شوی چې اړتیا ورته نه ده پېښه شوې.
انور ویلي چې د محاکمو ډېرى وروستۍ پرېکړې یې تطبیق کړې او د غصب شوو ملکیتونو په بېرته راګرځولو کې هم ښې لاسته راوړنې درلودې.
همدا راز نوموړي زیاته کړې چې د کډوالۍ قانون، د کار قانون، د افغانستان د ژبو او په ادارو کې د فساد اړوند قوانین به هم ډېر ژر طی مراحل لپاره اړوندو مراجعو ته وړاندې شي.
نوموړي له دولتي ادارو هم غوښتې چې له قانون سره سم دې خپل اړین سندونه د عدلیې وزارت تقنیني برخې ته وسپاري، تر څو په راتلونکي کال کې پرې کار وشي.
د یادونې ده، د روان کال په اوږدو کې د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې ۳۶ تقنیني سندونه چاپ او خپاره شوي دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اپمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۶مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۷مه | ٤۸۱یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱٦ | ۱۷ | ۱۳ | ۱۸ | ۱٦ |
| ۱- | ۷ | ٦ | ٤ | ٦ | ٤ |


شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲٤ | لمر ختل ۰٦:۵۳ | ماسپښین ۱۱:٤۹ | مازیګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:٤۵ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نړۍ




## راپورونه: په هند کې د تابعیت د قانون پر سر په راپورته شوي کړکېچ کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ۳

## کرېملين: د مسکو او واشنګټن ترمنځ د اړيکو د ښه کېدو هڅې ناکامې دي



د روسيې د جمهوري رياست ماڼۍ يا کرېملين ويلي چې د مسکو او واشنګټن ترمنځ د اړيکو د ښه کېدو هڅې ناکامې ښکاري.

د کرېملين وياند ديمتري پېسکوف وروسته له هغې دا خبره کړې چې نږدې يوه اونۍ مخکې د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف واشنګټن ته تللی و او هلته يې له خپل سيال مايک پامپيو او ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره وکتل.


سپينې ماڼۍ او نورو امريکايي چارواکو ويلي چې ټرمپ او پامپيو د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف ته د امريکا په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې د روسيې د لاسوهنو په تړاو خبرداری ورکړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا استخباراتي ادارې روسيه تر دې وړاندې تورنه کړې وه چې د امريکا د ۲۰۱٦ ميلادي کال په ولسمشريزو ټاکنو کې يې مداخله کړې ده.

خو لاوروف وروسته بيا ويلي چې له ټرمپ او پامپيو سره په خبرو کې د ټاکنو په تړاو هېڅ ډول خبرې نه دي شوې.

د کرېملين وياند ديمتري پېسکوف د روسيې له دولتي ټلوېزيون سره په مرکه کې ويلي چې له ټرمپ سره د لاوروف ليدل ښه خبره وه، خو کړکېچ په دې حد کې دی چې داسې ليدنې کتنې هم منفي حالات نه شي ښه کولای.

## السيسي: د ليبيا مرکزي حکومت د ملېشو لخوا ايسار شوی دی



د مصر ولسمشر عبدالفتاح السيسي ويلي، په ګاونډي هېواد ليبيا کې د ملګرو ملتونو له ملاتړه برخمن حکومت د ملېشو له خوا ايسار دی.

السيسي په شرم شيخ ښار کې د يوې ټلوېزيوني وينا پر مهال ويلي چې دا چې د ليبيا حکومت خپلواکي نه لري او په خپله خوښه عمل نه کوي، لامل يې دا دی چې د ده په خبره، طرابلس د ملېشو او تروريستانو په لاس کې دی.

نوموړي دغه راز زياته کړې چې د ليبيا اوسنی کړکېچ مستقيماً په مصر هم تاثير کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د السيسي له دغو څرګندونو درې ورځې مخکې د ليبيا د ملي پوځ په نوم د يوې وسله والې ډلې مشر خليفه حفتر د ليبيا د حکومت پر ضد د يوې لا قوي مبارزې اعلان وکړ. حفتر اته مياشتې مخکې د طرابلس د نيولو لپاره د عملياتو امر کړی و، چې له هغه مهاله پر دغه ښار ګڼ بريدونه کړي دي.

په ورته وخت کې وسله والو ملېشو بيا په طرابلس کې له حکومت سره مرسته کړې تر څو د خليفه حفتر پر ضد وجنګېږي.

د يادونې ده چې په ليبيا کې له ۲۰۱۱ ميلادي کال راهيسې چې د دغه هېواد پخواني ځواکمن ولسمشر معمرالقذافي ووژل شو، سياسي کړکېچ او لانجې رواني دي چې په زرګونو کسان پکې وژل شوي او ټپيان شوي او ډېری نور بيا اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي دي.

## ولسی جرگه مسئولان مالیه در پیوندبه قطعیه بودجه به څارنوالی معرفی میکند



ولسی جرگه فیصله کرده است که مسؤلان وزارت مالیه و آن عده اداراتی که در مصرف بودجه سال ۱۳۹۷ تخطی و تخلف کرده اند، به ارگان-های عدلی و قضایی معرفی شوند.

به اساس گزارش آژانس خبري پژواک، در حساب قطعیه بودجه سال گذشته شماری از پروژه ها تعدیل شده، میلیاردها افغانی در مقاصدی که برای آن پیش بینی شده بود مصرف نشده و شماری از ادارات بیش از سقف تعین شده در بخش اوپراتیفی وجوه مالی را دریافت کرده است.

ولسی جرگه، دیروز محمد همایون قیومی سرپرست وزارت مالیه و محمد نعیم حقمل رئیس اداره عالی تفتیش را غرض ارایه وضاحت در این مورد استجواب کرده بود.


سید عظیم کبرزانی منشی کمیسیون مالی و بودجه ولسی جرگه که در نشست دیروز این جرگه صحبت می کرد، گفته است که به اساس ماده ۱۵ اصولنامه اجرای بودجه سال مالی ۱۳۹۷، تعدیل از سایر فصول و کودهای داخل بودجه به فصول اپراتیفی مجاز نیست و به اساس این ماده تنها پول اپراتیفی به وزارت های دفاع ملی، امور داخله، ریاست عمومی امنیت ملی و شورای امنیت ملی قابل پرداخت می باشد.

اما او می گوید که ریاست محافظت رئیس جمهور ۳۰ میلیون افغانی و ریاست اجرایی حکومت ده میلیون افغانی پول اپراتیفی را در حالی دریافت کرده اند که مستحق وجوه اوپراتیفی نمی باشند.

وی افزوده است که در کمیسیون مشترک فیصله بر آن شد تا وزرای اداره هایی که کمتر از هشتاد درصد بودجه مصرف کرده استیضاح شوند و همچنان پیشنهاد عزل معین مالی و اداری، رییس تدارکات، رییس مالی، رییس پلان و پالیسی و رییس ساختمان آن اداره از حکومت خواسته و به ارگان های عدلی و قضایی معرفی شوند.

## ژوند

## بهانې مه لټوئ



(په کار کې مې له دې نور نشم ښه کېدای، د ورزش لپاره وخت نه لرم، نشم کولی چې دغه کار په هغه ډول وکړم چې ته يې غواړې او يا خپلې دې هيلې ته ورسېږم، څکه چې دا ډېره ستونزمنه او سخته ده، نه يې شم عملي کولی). ډېری انسانان د خپلو پلمو او بهانو لپاره جنګېږي، هر څومره چې د خپلو بهانو لپاره وجنګېږي، په همغه اندازه يې د ځان پر لور جذبوي. هغه څه چې نه يې غواړې، وده مه ورکوه. پرې يې ږده او د پياوړتيا پر لور لاړ شه. راډيارډ کيپلينګ ويلي: «د ماتې لپاره ځلوېښت ميليونه دلايل لرو، خو بهانه نه لرو.» بريالي انسانان بهانې نه لټوي. هېڅ داسې غوره او عالي ژوند نشته چې د بهانو او عذرونو پر اساس رامنځته شوی وي، نو عذرونه او بهانې مه لټوه. دا هغه بې ګټې خيالونه دي چې تا د ځان لپاره جوړ کړي دي. نن هغه ورځ ده چې بايد د خپلو عذرونو او بهانو پر لور تللې پلونه وسوځوې. نن به ستا لپاره هغه ورځ وي چې خپلو ټولو غوښتنو ته ورسېږې. نن کېدای شي هغه ورځ وي چې ته پرته د مشرۍ له لقب درلودو څخه مشري او رهبري وکړې او خپلې ورتياوې را برسېره کړې.

## د پستې له دې ګټو خبر وی؟



پستې د سترګو کمزورتيا، د کولمو درد، سرطان، شکر، د زړه حملې او وزن په کنټرول کې له تاسو سره مرسته کوي. دا چې پسته په خپل ترکيب کې رژيمي فايبر لري، نو څکه کولی شي چې د خوړو په وسيله ستاسو کولمې نرمې کړي او ارام فعاليت پيل کړي. د پستې مغز په خپل ترکيب کې د کاروتنويېډ په نوم مواد لري چې د زيکسانتين او لوتين په نامه پېژندل کېږي. کاروتنويېډ هغه ماده ده چې سربېره پر دې چې ستاسو د نورو ناروغيو د ګواښ کچه ښکته کوي، د سترګو له کمزورۍ او له سرطاني ناروغيو هم مخنيوی کوي. وروستۍ څېړنې ښيي، که په دوامداره توګه له پستې څخه ګټه واخلې، نو که عمر مو زيات هم شي، نو سترګې به مو نه کمزورې کېږي. پسته د شکرې ناروغۍ په اداره کولو کې رغنده لوبوي؛ څکه چې په دې کې د (ګلېکېشن) په نوم مواد شتون لري چې ستاسو د بدن قندونه مناسب حالت ته راوستلی شي. دا چې پسته د غني انټي اکسيډانټونو سرچينه ده، نو د وينې کلسټرول او هغې ته ورته مضر حرکات چې په بدن کې ترسره کېږي، د هغې مخنيوی کوي.